Australian Government
Australian Taxation Office

# ستاسي د 24-2023 کال مالیاتي اظهارلیک لپاره مهم معلومات

لاندي ورکړل شوي مهم معلومات تاسي سره د 24-2023 عایداتي کال لپاره په اسانی ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو کي مرسته کوي.

## د سپارلو لپاره غوره وخت

کارګومارونکي، بانکونه او نورې اداري معلومات Australian Taxation Office (ATO) ته راپور کوي. که تاسي د خپل مالیاتي اظهارلیک سپارلو لپاره د جولای پای پورې انتظار وکړئ، ATO به دا معلومات ستاسي لپاره وارد‌مخه ډک کړي. دا ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارل چټک، اسانه او لاډیر دقیق او کوي. هغوی چې د اظهارلیک دمخه ډکېدو ته انتظار نه کوي هغوی کولی شي خپل مالیاتي اظهارلیک په سیستم کي وساتي او اړ دي چې اصلاح یې کړي ځکه د هغوی ټول عواید پکي شامل شوي نه وي.

## هغه عاید چې تاسي اړ یې خپل مالیاتي اظهارلیک کي یې شامل کړئ

تاسي باید ټول هغه عاید چې د مالي کال په جریان کي یې ترلاسه کوئ پدې کي شامل کړئ. یعني ټولي هغه پیسي چې تاسي د خپلو ټولو دندو څخه ګټلي دي، پشمول د بشپړ وخت، نیمه وخت، عادي یا لنډمهالي دندې، آزاد شغل او نغدي دندې. تاسي باید هغه پیسي هم دې کي ولیکئ چې تاسي د نورو لارو څخه ترلاسه کړي، پشمول د:

- آنلاین فعالیتونو
- شریک اقتصاد
- کراوډ فنډنګ یا د پیسو راټولول
- د شخصي خدمتونو عاید
- بهرنی عاید او د هېواد څخه دباندې پانګووني
- د بانکي حسابونو څخه ګټتانه
- ستاسي کرایي املاک
- د اسهامو بازار ونډې
- حکومتي تادیات
- پیسي (په ځینې حالتونو کي د پیسو په ځای ترلاسه شوي توکي یا خدمتونه)
- د شراکتونو، امانتونو او واحدونو څخه ترلاسه شوی عاید

## دمخه ډکېدل او د عاید اظهارلیکونه

دا اسانه ده که تاسي انتظار وکړئ چې ستاسي د عاید اظهارلیک د «مالیه لپاره چمتو» په توګه په نښه شي او ستاسي معلومات ستاسي د مالیاتي اظهارلیک سپارلو څخه مخکي دمخه ډک شي. هغه خلک چې خپلو معلوماتو ته انتظار نه کوي چې دمخه ډک شي اکثر اړ وي خپل مالیاتي اظهارلیک په سیستم کي وساتي او ممکن اصلاح کولو ته یې اړتیا وي ځکه چې د هغوی ټول عاید پکي شامل کړی شوی نه وي.

د ځیني معلوماتو دمخه ډکېدل ممکن د نورو پرتله ډېر وخت واخلي. مخکي لدې چې تاسي خپل مالیاتي اظهارلیک وسپارئ وګورئ چې آیا ټول هغه څه پکي شامل دي چې تاسي اړ یې اعلام یې کړئ او صحیح دي.

که تاسي ستاسي د ټولو معلوماتو دمخه ډکېدو څخه مخکي خپل مالياتي اظهارليک وسپارئ، تاسي اړ يي ريکارډ ولرئ چي د PAYGW لپاره ادعاوې، د TFN نيولو، او چتک کرېډيټ چي ستاسي مالياتي اظهارليک کي دمخه ډک شوی نه وي اثبات کړي. تاسي اړ يي ډاډ ترلاسه کړئ چي دا مقدار ستاسي د اظهارليک سپارلو څخه مخکي ستاسي د کارګومارونکي يا د دريمي ډلي لخوا ساتل شوی.

## حکومتي تاديات

که تاسي حکومتي تاديات ترلاسه کوئ (لکه د Centrelink څخه) تاسي اړ يي خپل مالياتي اظهارليک کي يي شامل کړئ. لاندي معلومات وګورئ چي پوهه شئ تاسي څه شي کولو ته اړتيا لرئ.

### Natural Disaster Assistance Payments

که تاسي د طبيعي ناورين په پايله کي مالي ستونزي تجربه کړي وي، تاسي ممکن د لاندي نهادونو څخه مرستندويه تاديه ترلاسه کړي وي:

- ځايی، ايالتي يا فدرالي حکومت اداري
- خيريه نهاد يا د ټولني ګروپ
- ستاسي کارګومارونکی.

### Australian Government Disaster Recovery Payment

تاسي ممکن د Disaster Recovery Allowance (DRA) څخه Australian Government Disaster Recovery Payment (AGDRP) يا لنډمهاله Disaster Recovery Allowance (DRA) ترلاسه کړي وي که تاسي د طبيعي ناورين مستقيم پايله کي خپل عايد له لاسه ورکړی وي.

د AGDRP تاديه د عايد څخه مستثنا ده. دا پدې معني ده چي پدې تاديه ماليه نشته او تاسي اړ نه يي خپل مالياتي اظهارليک کي يي شامل کړئ.

په هرصورت، که تاسي د کوم مخکيني عايداتي کال څخه زيانونه (په انګلسي کي) مخته راوړي وي، تاسي اړ يي دا مقدار د استثنا عايد په واسطه کم کړئ.

### Disaster Recovery Allowance

د Disaster Recovery Allowance تاديه عموماً د ماليه وړ تاديه ده يعني دا چي تاسي په هغه مقدار ماليه تاديه کوئ کوم چي تاسي ترلاسه کوئ او تاسي اړ يي په لاسي ډول يي خپل مالياتي اظهارليک کي وليکئ.

په هرصورت، حکومت کولی شي ځانګړی Disaster Recovery Allowance استثنا يا غير ارزوني وړ غير استثنا تاديه وکړي. د دي تاديه يو مثال د 20-2019 ځنګلي اور د ناورين مرستندويه تاديات او غير نغدي مرستي دي.

د Disaster Recovery Allowance تاديه به ستاسي د Centrelink تاديه لنډيز کي **ونه** ښودل شي او ستاسي مالياتي اظهارليک کي به دمخه ډک **نشي**. تاسي اړ يي هغه مقدار وګورئ چي تاسي ترلاسه کړی:

- ستاسي د Centrelink انلاين حساب په **Payment History** برخه کي
- په Centrelink ليکونو کي تاسي آنلاين يا پوست کي ترلاسه کړي
- د Services Australia سره اړيکه نيولو له لاري

کله چي خپل مالياتي اظهارليک ډکوئ، د Disaster Recovery Allowance تاديه چي تاسي ترلاسه کړئ په لاندي يوه برخه کي وليکئ:

- **Australian Government allowances and payments** که تاسي د myTax په کارولو سره آنلاين اظهارليک سپارئ
- **Question 5 Australian Government allowance and payments** که تاسي اظهارليک په کاغذي بڼه سپارئ
- **Questions 5A Australian Government allowance and payments** که تاسي راجستر شوی مالياتي مسلکي فرد يي.

**خبرتيا:** دا معلومات يوازي عمومي لنډيز دی او په 2024 مارچ 26 کي تازه شوي دي

تاسي کولی شئ په آزادانه ډول دا مواد کاپي کړئ، سمون ورکړئ، اصلاح يي کړئ، ولېږدوئ او توزيع يي کړئ (مګر پداسي کومه طريقه نه چي سپارښتنه کوي يا ښئ چي ATO يا Commonwealth تاسي يا ستاسي کوم خدمتونه يا محصولات تاييدوي).

## Disaster Recovery Allowance Top-Up

د New Zealand Disaster Recovery Allowance Top-Up, New Zealand Disaster Recovery Allowance او Disaster Recovery Allowance Top-Up تادیات د مالیاتو وړ تادیات دي، یعني دا چې تاسي پدې مقدار باندې مالیه تادیه کوئ، او تاسي اړ یې په لاسي ډول یې خپل مالیاتي اظهارلیک کې ولیکئ.

دا تادیات به ستاسي د Centrelink تادیه لنډیز کې **ونه** ښودل شي او ستاسي مالیاتي اظهارلیک کې به دمخه ډک **نشي**. تاسي کولی شئ هغه مقدار په نښه کړئ چې تاسي ترلاسه کړی:

- ستاسي د Centrelink انلاین حساب په **Payment History** برخه کې
- په Centrelink لیکونو کې تاسي آنلاین یا پوست کې ترلاسه کړي
- د Services Australia سره اړیکه نیولو له لارې

کله چې خپل مالیاتي اظهارلیک ډکوئ، دا تادیات په لاندې یوه برخه کې ورکړئ:

- **Australian Government special payments** که تاسي د myTax په کارولو سره آنلاین اظهارلیک سپارئ
- **Question 24 Other income** که تاسي په کاغذي بڼه اظهارلیک سپارئ
- **Question 24V** یا **Income Details Schedule** په **Australian government benefit taxable amount** (INCDTLS128) برخه کې اضافه کړئ، د **Australian government benefit type** (126INCDTLS) برخې **Special** ته تنظیم کولو سره، که تاسي راجستر شوی مالیاتي مسلکي فرد یې.

### هغه کسرونه چې تاسي یې غوښتنه کولی شئ

تاسي ممکن ستاسي دندې پورې اړوند د ځینې لګښتونو لپاره د کسرونو غوښتنه وکړی شئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسي خپل کار پورې اړوند ټولو لګښتونو بیاکتنه وکړئ، په ځانګړي توګه که ستاسي کاري ترتیبات بدل شوي وي. فقط هماغه مقدار مه شاملوئ کوم چې تاسي تیر کال ادعا کړی. د کسر ادعا کولو لپاره، تاسي باید نوموړی مقدار پیسې مصرف کړې وي او لګښت یې بیرته درکړل شوی نه وي. دا باید ستاسي عاید ګټلو پورې مستقیم تړلی وي، او تاسي باید د دې ریکارډ ولرئ لکه رسید یا یې ثابت کړئ. عموماً کار پورې تړلي لګښتونو لپاره د کسر غوښتنه کولو لپاره (یوازې) بانکي اظهارلیک کافي شواهد ندي.

د کور څخه د کار کولو کسر

د دې لپاره 2 لارې شتون لري چې تاسي د [کور څخه کار](https://) (په انګلیسي کې) کسر په کار واچوئ – د[ټاکلي نرخ میتود](https://) (په انګلیسي کې) یا د [واقعیي لګښت میتود](https://) (په انګلیسي کې).

د ټاکلي نرخ میتود له مخې تاسي کولی شئ د هر یوه ساعت لپاره چې تاسي د کور څخه کار کړی د 67 سینټ ادعا وکړئ او لاندې اضافي جاري لګښتونه وپوښئ:

- ډیټا او انټرنیټ
- موبایل او د کور تلیفون کارول
- بریښنا او ګاز
- قرطاسیه
- د کمپیوټر مصرفي توکي (لکه د پرینټر رنګ).

تاسي نشئ کولی دا توکي جلا خپل مالیاتي اظهارلیک کې ادعا کړئ.

د ټاکلي نرخ میتود په کارولو سره د کسر ادعا کولو لپاره، تاسي اړ یې ریکارډ ولرئ چې ښئ:

- د هغه ساعتونو ټولټال شمېر چې تاسي د 1 July 2023 – 30 June 2024 ترمینځ پکې د کور څخه کار کړی دی، او
- د هر اضافي جاري لګښت لپاره ریکارډ چې د فی ساعت نرخ په واسطه پوښل شوی چې تاسي ته پیښ شوي (لکه تلیفون، بریښنا یا د انټرنیټ بیل).

د واقعیي لګښت میتود کارولو لپاره، تاسي اړ یې د ټولو هغه لګښتونو لپاره چې تاسي ته پیښ شوي، په کور کې ستاسي د کار ساعتونو ریکارډ ولرئ، او دا باید وښئ چې تاسي څنګه د دغه لګښتونو کار پورې تړلې برخه محاسبه کړې ده.

**خبرتیا:** دا معلومات یوازې عمومي لنډیز دی او په 2024 مارچ 26 کې تازه شوي دي

تاسي کولی شئ په آزادانه ډول دا مواد کاپي کړئ، سمون ورکړئ، اصلاح یې کړئ، ولیږدوئ او توزیع یې کړئ (مګر پداسي کومه طریقه نه چې سپارښتنه کوي یا ښئ چې ATO یا Commonwealth تاسي یا ستاسي کوم خدمتونه یا محصولات تاییدوي).

د کیلومتر له مخې سینټونو نرخ بدلون

که تاسې کار پورې تړلي د موټر لګښتونو لپاره د کسر ادعا کولو مستحق اوسئ، د کیلومتر له مخې د سینټونو نرخ اوس د 24-2023 عایداتي کال لپاره 85 سینټونه في کیلومتر ته ډېر شوی دی. تاسې کولی شئ په کال کې د موټر په واسطه کار پورې تړلي نهایت تر 5,000 کیلومتر پورې ادعا کولی شئ.

د کیلومتر له مخې سینټونو نرخ یو هراړخیز او مشمول نرخ دی، او دا ستاسې د موټر ټول لګښتونه پوښي، پشمول د راجستریشن، بیمې، ترمیم، مراقبت، سونګ توکي، او په ارزښت کې کموالی. تاسې نشئ کولی دا لګښتونه خپل اظهارلیک کې جلا ادعا کړئ. تاسې اړ یې ریکارډ وښیوئ چې تاسې موټر لرئ یا په کرایه مو اخیستی او د دې ریکارډ چې وښئ تاسې څنګه د کال په اوږدو کې خپل کار پورې تړلي کیلومترونو ریکارډ ساتلی دی.

نور معلومات

په نورو ژبو کې د نورو مالیاتي سرچینو لپاره ato.gov.au/TaxTimeResources ته (په انګلسي کې) ورشئ.

## د Tax Help پروګرام

که تاسې خپل مالیاتي اظهارلیک سپارلو کې مرستې ته اړتیا لرئ او په کال کې $60,000 یا لدې کم عاید لرئ، زموږ د Tax Help روزل شوي رضاکاران کولی شي په وړیا توګه تاسې سره ستاسې د مالیاتي اظهارلیک سپارلو کې مرسته وکړي.

د Tax Help پروګرام، په شرایطو برابرۍ او د ملاقات اخیستلو څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، www.ato.gov.au/taxhelp ته (په انګلسي کې) ورښئ.

که تاسې د Tax Help لپاره په شرایطو برابر نه یې، تاسې ممکن د National Tax Clinic پروګرام ته د لاسرسي وړ اوسئ، دا د حکومت لخوا تمویل شوی یو نوښت دی چې د هغه خلکو سره د مرستې لپاره دی څوک چې نشي کولی مسلکي مشوره یا د هغوی مالیاتي چارو کې استازیتوب بندوبست وکړی شي.

د Tax Clinics په اړه نورو معلوماتو لپاره، ato.gov.au/taxclinic ته (په انګلسي کې) ورشئ.

**خبرتیا:** دا معلومات یوازې عمومي لنډیز دی او په 2024 مارچ 26 کې تازه شوي دي

تاسې کولی شئ په آزادانه ډول دا مواد کاپي کړئ، سمون ورکړئ، اصلاح یې کړئ، ولېږدوئ او توزیع یې کړئ (مګر پداسې کومه طریقه نه چې سپارښتنه کوي یا ښئ چې ATO یا Commonwealth تاسې یا ستاسې کوم خدمتونه یا محصولات تاییدوي).